مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباری جهانی

۲۰۲۲/۰۱/۰۸

# غـزل

زه یـوه غـزل درتــه لــیــکم چــاتــه بــه نـه وایي
پــل د رقــیــبــانــو در ښیــم چــاتــه بــه نــه وایي
مــا تــه مــي تـقديـر د انـتـظار شپېـي لیـکلـي دي
شمعـي دي پـه لار کـي لـګـوم چاتـه بـه نـه وايي
څنګه بـه مـي سیوری رقـیبـان پـه لار کـي ووینـي
خوب تـه دي پـه نيمه شپه درځم چاتـه بـه نـه وايي
زه لـه دوه رنګيو دي تيـاري تـه تـښـتـېدلی يم
پټ به مي ګرېوان درته څيرم چا ته بـه نـه وايي
څـمـه لـکه اوښـکه د بـڼو لــه څــو کــي پرېوتم
خپل جنون ګرېـوان تـه ژړوم چاتـه بـه نـه وايـي
ما د نـغمـه ګـري غـاړګـی تــه زيـنـدی ولـيـده
ښار مي محتسب ته ور پرېږدم چاته به نـه وایي
مه راکوه زېـری د رنـا، نصيب يــي نــه مـنــي
سترګي په تيارو کي ښـځوم چـاتـه بـه نـه وايـي
ماته پـه فالـونو کـي پـردی سـاقي خـتـلــی دی
څمه خپل اورغوی سوځوم چاتـه بــه نـه وايـي
نور بـه دي آواز د جهاني محفل تـه نـه درځـي
اور مي پـه ديوان کي بـلوم چـاتـه بـه نـه وايي

د ۲۰۲۱ کال د جنوري اتمه ويرجينيا.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ